ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونت خبري اوونیزه

آبادي اوونیزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۱ | مسلسل نمبر: ۹۱

سه شنبه، د رمضان المبارک ۲۵مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال




## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل ولایت ارغندی ترانسپورتي ترمینل د چارو د پیل پرانیسته وکړه



۲ صفحه

## صادراتو کې د ښکېلو وزارتونو او ادارو لپاره د واحد سیستم رامنځته کولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه



۲ مه صفحه

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد د سمسورتیا په موخه د ارګ په انګړ کې نیالګی کیناوه



۳مه صفحه

## سرلیکنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشتې په دریمه نېټه د کابل ولایت پغمان ولسوالۍ د ارغندی ترانسپورتي ترمینل د چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په هېواد کې د ترانسپورتي زېربناوو د پراختیا په برخه کې د ارغندی ترانسپورتي ترمینل جوړول مهم وبلل او ویې ویل، د ترانسپورتي زېربناوو معیاري رغول او پراخول د یو هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او د داخلي او سیمه ییز اتصال لپاره ډېر مهم او بنسټیز ګام ګڼل کېږي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د عصر اړتیاوو او امکاناتو ته په کتو نه یوازې د ترانسپورتي زېربناوو د رغولو او پراخولو په برخه کې کلک هوډ لري، بلکې د نورو بنسټیزو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو په برخه کې هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

افغانستان د اسیا لویې وچې هېوادونو تر منځ د پله په حیث تل د کاروانونو او سوداګرو د تګ راتګ ځای و. خو پر دې هېواد د نیواکګرو له یرغلونو سره سم د نورو برخو ترڅنګ د ترانسپورت سکتور هم سخت زیانمن شو. هغه لویې لارې او سړکونه چې لوی ښارونه یو له بل سره نښلوي، په ځینو برخو کې خراب دي او بیا رغونې ته اړتیا لري. ډېرې لرې پرتو سیمو ته د مناسبو زېربناوو د نشتون له امله لاسرسی ستونزمن دی. له بل لوري لکه څنګه چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې ووېل چې د یوه هېواد اقتصادي وده، پرمختګ او سیمه ییز اتصال له پاره ترانسپورټ اړین دی، په رښتیا هم ترانسپورت په ملي اقتصاد کې مهم رول لري. که چیرې موږ معیاري ترانسپورټ ولرو نو له دې سره به زموږ په کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ کې پرمختګ رامنځته او نړیوالو بازارونو ته به مو لاسرسی اسانه شي. د ترانسپورتي زېربناوو پراختیا او د ترانسپورتي شبکو پراخول خلکو ته نوي کاري فرصتونه برابروي. په معیار برابر ترانسپورټ ترانسپورتي لګښتونه راکموي او د مالونو په انتقال کې سرعت رامنځته کوي. دغه راز د ترانسپورټ د زیربناوو په جوړولو کې د پانګونې جذب ته هم زمینه برابرېږي. که چیرې ترانسپورټ معیاري او زیربناوې یې عصري وي، نو کولای شي د ګرځندوی صنعت په غوړېدو کې هم مرستندوی واقع شي. د ترانسپورټ اقتصادي ارزښت ته په کتو اسلامي امارت د ترانسپورټ سکتور د زیربناوو رغولو ته مخه کړې ده. تر دې مهاله د افغانستان مهمو سوداګریزو لویو لارو د بیارغونې چارې رواني دي. د دې ترڅنګ د کابل – غزني او کابل – جلال اباد د دوهم لین سړکونو د جوړېدو او د اوسپنې پټلۍ د متوسطو او سترو پروژو چارې هم پیل شوې دي. د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې د ترانسپورتي زیربناوو د جوړېدو په برخه کې ګامونه اوچت شوي دي. په دې برخه کې وروستی ګام د کابل په ارغندی کې د معیاري ترانسپورتي ترمینل د چارو د پیل پرانیسته وه. د ترانسپورتي زیربناوو په جوړېدو به موږ یو معیاري ترانسپورټ ولرو او پرمټ به یې لکه مخکې چې اشاره ورته وشوه، د اقتصادي ودې او پرمختګ شاهدان واوسو.

# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل ولایت ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل د چارو د پیل پرانیسته وکړه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشتې په درېیمه نېټه د کابل ولایت پغمان ولســوالۍ د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل د چارو د پیل پرانیسته وکړه. په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د ترانسپورټ او هوایي چلند سرپرست وزیر ملا حمیدالله اخوندزاده، د خصوصي ســکټور اســتازو او د سیمې یوشمېر اوسېدونکو هم حضور درلود.

د ریاســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال په هېــواد کې د ترانسپورټي زېربنا د پراختیا په برخه کې د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل جوړول مهم وبلل او ویې ویل، د ترانسپورټي زېربناوو معیــاري رغول او پراخــول د یو هېــواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او د داخلي او ســیمه ییز اتصال لپاره ډېر مهم او بنسټیز ګام ګڼل کېږي. د محترم ملا صاحب په خبره، له بده مرغه په هېواد کې د لسیزو جګړو او فساد له امله دې مهمې برخې ته پام نه دی شوی؛ بلکې په دې برخه کې شته زېربنا د ټیــټ کیفیت له امله تخریب شــوې، عامــه ملکیتونه د اشــخاصو له لوري غصب او د لویو لارو او سړکونو حریمونه کوچني شوي دي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د معیاري ترانسپورټي زېربنا ارزښت ته په اشارې سره وویل، په ترانسپورټي او مواصلاتي زېربناوو کې پانګونه، د غصب شویو عامه ملکیتونو بېرته استرداد، د سړکونو او لارو د اصلي حریم تشــخیصول او رغول د افغانســتان اســلامي امارت یو له اســاسي او مهمو ملي موخو څخه ګڼــل کېږي. په همدې موخه دا دی نن د ارغندۍ ترانســپورټي ترمینل عملي چارې پیلېږي، چې ۴۲ مهم تاسیسات پکې جوړېږي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د عصر اړتیاوو او امکاناتو ته په کتو نه یوازې د ترانسپورټي زېربناوو د رغولو او پراخولو په برخه کې کلک هوډ لري، بلکې د نورو بنسټیزو ستراتیژیکو موخو د ترلاســه کولو په برخه کې هم خپلــو هڅو ته دوام ورکوي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو هېوادوالــو ته د دې مهمې پروژې د پیل مبارکي وویله او له قراردادي شرکت څخه یې وغوښــتل چې په ښه کیفیت یې چارې په ټاکلي وخت کې بشپړې کړي.

د یادونــې وړ ده چې د کابل ولایت د ارغندۍ ترانســپورټي ترمینل په  شاوخوا ۹۰۰ جریبه ځمکه کې د یو میلیارد او ۲۸۵ میلیونــو افغانیو په لګښــت جوړېږي، چې چــارې به یې د خصوصي ســکټور له لوري په دوو کلونو کې بشپړې شي. د دغه ترمینل په جوړېدو سره به ترانسپورټي اسانتیاوې زیاتې شي، د انتقال اړوند چارو پــه چټکتیا او غوره تنظیم کې به مهم رول ولوبوي، ترانسپورټي لګښتونه او ترافیکي ستونزې به کمې او ډېرو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شي.

# صادراتو کې د ښــــکېلو وزارتونو او ادارو لپاره د واحد سیستم رامنځته کولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه



د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشــتې پــه ۲۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه بحث وشــو. له هراړخیز بحث وروســته د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په نظر کې نیولو سره په صادراتو کې د ښکېلو وزارتونو او ادارو لپاره د واحد سیســتم رامنځته کولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېســیون ته راجع شــوه. د دغه طرحې له مخې به په صادراتي اسنادو کې له جعل څخه مخنیوی وشي، د صادراتو وخت او لګښت به راکم شي، د صادراتو د تضمین اعتبار به زیات او په مجموع کې به د صادراتو په زیاتوالي کې مهم رول ولري.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه اباډي
هفته نامه آبادی


# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد د سمسورتیا په موخه د ارګ په انګړ کې نیالګی کیناوه



د ریاســت الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخونــد د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشــتې په دریمــه نېټه د ارګ په انګړ کې د هېواد د سمســورتیا په موخه نیالګی کېناوه. محترم ملا صاحب د نوي کال د پیل او د نیالګیو کېنولو او پالنې ارزښت ته په اشارې سره وویل، ټول هېوادوال دې په خپلو سـیمو کې د هېواد د سمسورتیا او خوندي چاپېریال په موخه نیالګي کېنوي او د هغو ساتنې او پالنې ته دې ځانګړې پاملرنه وکړي.

د یادونې وړ ده، چې په ۱۴۰۴ لمریز کال کې به د هېواد په کچــه ۱٦ میلیونه بېلابېل میوه لرونکي او بې میوې نیالګي کېنول شي.

## اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

### صادرات ۴۴۷ میلیــــون دالــری قندهار در سال ۱۴۰۳ خورشیدی

در ســال ۱۴۰۳ خورشیدی ۴۲۱ هزار تُن کالاهای صادراتی به ارزش بیش از ۴۴۷ میلیــون دالــر از قندهار به کشــورهای پاکســتان، هند، چین، امریکا، امارات متحده عربی، ســویدن، ایران، ترکیه و آلمان صادر شده اســت. مسوولان اتاق تجارت و سرمایه‌گــذاری این ولایت می گوینــد کــه در میــان ایــن کالاهای صادراتــی، عــلاوه بر میوه‌هــای تازه و خشک، حبوبات، مواد معدنی، سبزیجات و محصولات حیوانی نیز شامل است. به گفته مســوولان محلی قندهار، با وجود مســدود بودن راه‌ها، میزان صادرات در مقایســه با سال گذشــته کاهش نیافته است. عبدالباقی بینا معاون اتاق تجارت و سرمایه‌گــذاری قندهــار گفــت: «در جریــان یازده مــاه گذشــته، از قندهار صــادرات خوبی داشــته‌ایم. میزان کل صادرات ۴۲۱ هزار و ۷۵۸ تُن اســت که ارزش دالری آن ۴۴۷ میلیون و ۱٦۳ هزار دالر امریکایی می‌شود و بخش عمده آن میوه خشــک اســت.» از ســوی دیگر، شماری از صادرکنندگان میوه خشک در قندهار خواستار گسترش روابط تجارتی با سایر کشــورهای جهان به‌جای پاکستان هستند. مسوولان اتاق تجارت و سرمایه گذاری قندهــار می‌گویند کــه در حال حاضر، علاوه بر پاکستان، روابط تجارتی با شماری از کشــورهای آسیای میانه نیز در حال گسترش است.

### پــروژه انتقـــال گاز شبـــرغان–مـــزار به مراحـــل نهایی رسیده است

وزارت معــادن و پترولیم می‌گوید که پروژه انتقال گاز شــبرغان–مزار به مراحل نهایی خود رسیده اســت. همایون افغان سخن گوی این وزارت، اظهار داشت که در حال حاضر آزمایش‌های پایانی این پروژه در حال اجرا است و با تکمیل آن، کارخانه‌های بلخ و شهر مزار از گاز طبیعی بهره مند خواهند شــد. این پروژه با هزینه شش اعشاریه ۹ میلیون افغانــی، ظرفیت انتقال حدود یک اعشاریه ۵ میلیون متر مکعب گاز را در شــبانه روز داراست. ســخن‌گوی وزارت معادن و پترولیم گفت: «کارهای ولدینگ کاری و تمدید پایپ‌لاین تکمیل شده است و فعلاً تنها تست‌های ضد زنگ باقی مانده اســت. امیدوار هستیم که در جریان سال آینده، کارهای باقی‌مانده نیز تکمیل شود.» بــا این حال، برخی از آگاهان اقتصادی بر اهمیت اجرای پروژه‌های مشــابه و فراهم ســازی تســهیلات برای سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی تأکید می‌کنند.




ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

## د اوبو او انرژۍ وزارت د سره صلیب وروستی راپور په کلکه رد کړی دی

د اوبو له نړۍوالي ورځې سره هممهاله، د سره صلیب نړۍوالي کمېټې راپور ورکړی و چې په افغانستان کې ۳۳ میلیونه خلک د اوبو له کمښت سره مخ دي. دغې کمېټې اوبو ته لاسرسی په افغانستان کې یوه جدي ننګونه بللې او ټینګار یې کړی چې دغه ستونزه د خلکو پر روغتیا، خوراکي خوندیتوب او د دغه هېواد پر اقتصادي ودې مستقیمه اغېزه لري. خو بلخوا د اوبو او انرژۍ وزارت د سره صلیب د وروستي یاد راپور دا ادعا رد کړې ده، چې ګواکي ۸۰ سلنه هېوادوال پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري. د یاد وزارت ویاند ویلي چې اسلامي امارت د وچکالۍ د مخنیوي لپاره بېلابېلې پروژې په پام کې لري. هغه په ټینګار سره ویلي: « موږ دا راپور په کله ردوو؛ ځکه نه پوهېږو چې په کوم اساس او په څه ډول یې دا سروې ترسره کړې ده.»

## رشد دادوستد افغانستان در سال ۱۴۰۳ خورشیدی

وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که در سال ۱۴۰۳ هجری خورشیدی، افغانستان بیش از یک میلیارد و ۷۸۵ میلیون دالر صادرات به کشورهای گوناگون جهان داشته است. بر بنیاد آمارهای این وزارت، در همین سال میزان واردات افغانستان به ۱۱ میلیارد و ۱۶۴ میلیون دالر رسیده است. انجیر، پنبه، کشمش، قالین، شمش سرب و سنگ‌های قیمتی و نیمه‌قیمتی از جمله عمده‌ترین اقلام صادراتی افغانستان در یک سال گذشته بوده‌اند. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت افزود: «مجموع صادرات افغانستان در سال ۱۴۰۳ به یک میلیارد و ۷۸۵ میلیون دالر و واردات به ۱۱ میلیارد و ۱۶۴ میلیون دالر رسیده است. افغانستان بیش‌ترین صادرات خود را به کشورهای پاکستان، هند، امارات متحده عربی، ازبیکستان، ایران، قزاقستان، چین، ترکیه، عراق و تاجیکستان انجام داده است.» در همین حال، اتاق زراعت و مالداری با اشاره به چالش‌های تجارتی با پاکستان، بر فراهم‌سازی تسهیلات بیش‌تر برای تاجران و امضای توافق‌نامه‌های تازه با کشورهای دیگر تاکید دارد. میرویس حاجی‌زاده معاون اتاق زراعت و مالداری می گوید: «ما باید از این فرصت‌ها استفاده کنیم. کشورهای دیگر از این چالش‌ها بهره می‌برند. ما می‌توانیم بازارهای خوبی در امارات داشته باشیم و راه‌های بدیل ایجاد کنیم تا در سال آینده مشکلاتی که اکنون سد راه تاجران است، برطرف شود.»



# د ټوکر اوبدلو فابریکو اقتصادي ارزښت

**لیکوال: قیس احمد**

### سریزه

صنعت د یو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لري. هغه هېوادونه چې پرمختللی اقتصاد لري، د صنعت رول پکې تر بل هر سکتور پیاوړی او اغېزناک دی. صنعت د یوې ټولنې د تولیدي فعالیتونو هغه ډګر دی چې خام مواد په پخو توکو، خدمتونو او محصولاتو بدلوي. اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي پرمختګ، کورنیو اړتیاوو پوره کولو او خودکفایي ته د رسېدو په برخه کې د صنعت ارزښت درک کړی او په همدې موخه یې په دغه مهمه برخه کې د پانګوني بنسټ زمینه برابره کړې او د پانګوالو ملاتړ کوي.

د ټوکر اوبدلو صنعت په افغانستان کې له ډېر پخوا راهیسې موجود دی. د ۱۳۳۰ مو کلونو په وخت کې په افغانستان کې د افغان نساجي، بګرامیو نساجي او د پشمي توکرو فابریکو فعالیت درلود، چې تولید شوي توکي پکې د هېواد په داخل کې له کارولو سربېره بهر ته هم لېږدول کېدل. خو په هېواد کې د تېرو لسیزو جګړو له امله د دغه صنعت وده ټکنې شوه او د ټوکر اوبدلو ډېرې فابریکې فلج شوې. واک ته د اسلامي امارت په بیاځلي رسېدو سره دغه مهم صنعت ته پاملرنه وشوه، چې د تېرو څه باندې دریو کلونو پر مهال د کندهار نساجي، د کندهار نخي او کندهار پشمي فابریکو سربېره په نورو ولایتونو کې هم د ټوکر اوبدلو یوشمېر فابریکې فعالې

شوې. په يادو فابريکو کې اوسمهال د غاليو تار، کشمبرې، پتو، توس، شړۍ، نظامي لباسونه او نور بېلابېل توکي توليدېږي. د ټوکر اوبدلو صنعت ته د اسلامي امارت د ځانګړې پاملرنه په پايله کې پر دولتي فابريکو سربېره د خصوصي سکټور له لورې د دې صنعت ځينې فابريکې فعالې او يوشمېر يې نوې جوړېږي. ښه بېلګه يې په کندهار ولايت کې د سندُس ټوکر اوبدلو فابريکه ده، چې اوسمهال يې د جوړېدو چارې بشپړېدو ته نږدې شوې دي. موږ په دې مقاله کې د ټوکر اوبدلو او سندس ټوکر اوبدلو فابريکې پر اقتصادي ارزښت لنډې خبرې کوو.

## د سندُس ټوکر اوبدلو فابريکه

د سندُس ټوکر اوبدلو فابريکه د کندهار ولايت په عينو سيمه کې په ۶۰ جريبه ځمکه جوړېږي. په دغه فابريکه کې د هېواد يوشمېر پانګوالو او سوداګرو په سهامي ډول پنځوس ميليون ډالره پانګونه کړې ده چې په پرمختللې ماشينرۍ او ټکنالوژۍ به سمبال وي.

دا د هېواد په سويل زون کې د ټوکر اوبدلو تر ټولو لويه فابريکه ده چې دوه فازونه لري. اوسمهال يې د جوړېدو چارې روانې دي چې د مسوولينو په خبره، ۷۵ سلنه پرمخ تللې دي او تمه ده چې پاتې هغه به يې هم د روان ميلادي کال تر پايه بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي. له دې فابريکې څخه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ لمريز کال د کب مياشتې په ۱۹مه نېټه ليدنه وکړه. محترم ملا صاحب د ټوکر اوبدلو صنعت په برخه کې د دې فابريکې جوړېدل مهم وبلل او له مسوولينو يې وغوښتل چې د توليداتو پر مهال په هېواد کې له موجودو خامو موادو(پنبې او وړيو) څخه استفاده وکړي. محترم ملا صاحب همدا راز دوی ته سپارښتنه وکړه چې د توليداتو کيفيت ته هم ځانګړې پاملرنه وکړي.

د سندُس ټوکر اوبدلو فابريکه په ورځني ډول د ۵۰ زره متره ټوکر د اوبدلو او د دې ترڅنګ د ۱۰۰ زره متره ټوکر د رنګولو وړتيا لري چې د کيفيت له وجې به د سيمې هېوادونو په کچه بهتره وي. د دې فابريکې مسوولين وايي، د ټوکر د توليد په پيل سره به د هېواد د اړتيا پر پوره کولو سربېره ان د سيمې هېوادونو ته هم صادرات ولري.

په دغه کارخونه کې اوسمهال ۹۰۰ کسان په مستقيم او غير مستقيم ډول پر کار بوخت دي چې د ټوکر د توليد په پيل سره به دا شمېره ۱۵۰۰ تنو ته لوړ شي. د مسوولينو د معلوماتو پر بنسټ، د سندُس توليدي فابريکه کې د شرکتي ونډې ترڅنګ عامو هېوادوالو ته هم د کمې پانګونې زمينه برابره شوې ده.

## د سندُس ټوکر اوبدلو فابريکې اقتصادي ارزښت

سندُس د ټوکر اوبدلو فابريکه د سهامي شرکت په بڼه جوړېږي. په دغه فابريکه به تر ډېره په هېواد کې له موجودو خامو موادو (پنبې او وړيو) څخه استفاده کېږي. افغانستان د ډېرو لمريزو ورځو، د اوبو مناسبو سرچينو او حاصلخېزه کرنيزو ځمکو په لرلو سره د پنبې د توليد لوړ ظرفيت لري، چې تر ډېره د هېواد په سويل، شمال او شمال - ختيځو ولايتونو کې کرل کېږي. پنبه هغه نبات دی چې په دې وروستيو کې د کوکنارو د بديل کښت په توګه ورته د هېوادوالو لېوالتيا زياته شوې ده.

د احصايې او معلوماتو ملي اداره وايي، په ۱۴۰۳ لمريز کال کې د هېواد په ۱۵ ولايتونو کې په ۱۰۵ زره هکتاره ځمکه پنبه کرل شوې وه چې ۱۵۹ زره متريک ټنه حاصلات يې راټول شوي، چې تر ټولو ډېره يې ۸۰ زره متريک ټنه په هلمند کې ده. د احصايې او معلوماتو ملي ادارې د شمېرو له مخې، د ۱۴۰۲ کال په پرتله په ۱۴۰۳ کال کې د پنبې په کښت کې ۱۲ او په حاصلاتو کې ۳۰ سلنه زياتوالی راغلی دی.

د معلوماتو له مخې، تېر کال د ۲۷۳ ميليونو ډالرو په ارزښت يوشمېر هېوادونو ته پنبه صادره شوې هم ده، چې د تېر په پرتله زياتوالی ښيي.

سره له دې چې د پنبې صادرات د هېواد په عوايدو کې زياتوالی راولي، خو که همدغه محصولات په هېواد کې د ننه پروسس او توليد شوي توکي يې صادر شي، ارزښت به يې له دې څو چنده زيات شي. د سندُس ټوکر اوبدلو فابريکې د توليد په پيل سره به د هېواد په سويل زون کې راټولېدونکې پنبه په همدغه فابريکه کې پروسس او بېلابېل ټوکر به توليد کړي. دا ټوکر به تر ډېره د هېوادوالو اړتياوې پوره کړي او د ټوکر په برخه کې به د هېواد د وارداتو کچه راکمه کړي.

افغانان چې تر ډېره په کرنه او مالدارۍ مصروف دي، په دې فابريکه کې به د مالدارۍ محصولات لکه وړۍ وکارول شي او بېلابېل وړين توکي به ترې توليد شي. په



دې سره به مالداران مالداری ته وهڅېږي او له دې لارې به ښه عواید ترلاسه کړي. په هېواد کې د نه د پنبې او وړیو پروسس او د ډول ډول ټوکر په تولید سره به په مستقیم او غیر مستقیم ډول زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته شي. همدا راز به د پنبې د کښت کچه پخوا په پرتله څو برابره زیاته، په محصولاتو کې به زیاتوالی راشي او د همدې محصولاتو د پروسس په موخه به پر سندُس سربېره نورې فابریکې هم جوړې شي. په نورو فابریکو کې به په زیاته اندازه پانګونه جذب شي، د ټوکر اوبدلو په برخه کې به هېواد ته نوې ماشینري راوړل شي، یوشمېر خلک به په مسلکي ډول وروزل شي، هېواد به د ټوکر اوبدلو په برخه کې خودکفایی ته ورسېږي او په مجموع کې به د ټوکر صنعت ښه وده وکړي.

## پایله

صنعتي فابریکې د یوې تولنې د تولیدي فعالیتونو هغه ډګر دی چې خام مواد په تولیدي توکو، خدمتونو او محصولاتو بدلوي. دغه فابریکې د هېوادونو د پرمختګ او اقتصادي ودې بنسټیزه برخه ګڼل کېږي چې د تولیدي ظرفیت لوړولو، کاري فرصتونو رامنځته کولو، د صادراتو په زیاتوالي، د پانګونې په جذب او د پرمختللو هېوادونو له تجربو په ګټې اخیستو سره د یو هېواد د اقتصاد پیاوړی کوي. اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي پرمختګ، کورنیو اړتیاوو پوره کولو او خودکفایي ته د رسېدو په برخه کې د صنعتي فابریکو ارزښت درک کړی او د یادو فابریکو د پراختیا او ودې په موخه یې د پانګونې ښه زمینه برابره کړې ده. له همدې فرصت څخه په استفادې د اسلامي امارت په بیاځلي راتګ سره د هېواد په مختلفو ولایتونو کې ډېری صنعتي فابریکو په فعالیت پیل کړی دی. سندُس د ټوکر اوبدلو فابریکه له همدې فابریکو یوه ده چې لسګونه میلیونه ډالره پانګونه پکې جذب شوې ده، سلګونو کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده، په هېواد کې د پنبې خام مواد به پروسس او بېلابېل ټوکر به ترې جوړ شي، په دې سره به د ټوکر په برخه کې د هېواد اړتیا تر یوه حده پوره شي، د ټوکر په برخه کې به صادرات زیات ، د پنبې کښت به پراختیا ومومي، مالداري او په مجموع کې به په هېواد کې د ټوکر اوبدلو صنعت وده وکړي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۱,۳۰؋ | ۷۱,۳۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۴۴؋ | ۲۴۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۲۹؋ | ۱,۲۹؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۶,۹۶؋ | ۷۷,۰۲؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۵؋ | ۰,۸۵؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۳۳؋ | ۸۳٤؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۹۲,۰٦؋ | ۹۲,۱۲؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۹,۰۱؋ | ۱۹,۰۲؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,٤۱؋ | ۱۹,٤۳؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۸۳؋ | ۹,۸٤؋ |

